Social Sceince
AcademicJournal

لیډ د پوهنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# د " لا ضرر و لا ضرار" فقهي قاعدې پېژندنه او په بيع کي يې تطبيقي بيلګې

پوهنيار نقيب الله ثاقب
فقه او قانون خانګه، شرعياتو پوهنځی، هلمند پوهنتون
مسؤل ايميل ادرس : naqibullahsaqib426@gmail.com

## لنډيز

د "لاضَرَرَ و لا ضِرارَ" فقهي قاعده يو له پنځه لويو فقهي قواعدو څخه ده چي د فقهي د مختلفو بابونو فروع د دې قاعدې لاندې راځي او د تطبيق مجال يې د حنفي فقهي په ټولو بابونو کي راځي، دا ښکاره خبره ده چي په ټولنه کي بايد هيڅ انسان بل انسان ته له شرعي جواز پرته ضرر ونه رسوي او نه بايد ضرر په ضرر سره ځواب کړل سي، د دې اصل په تطبيق سره ټولنه د امن او استقرار څخه برخمنه کيږي، زموږ هدف له دې څېړني څخه د "لاضَرَرَ و لا ضِرارَ" فقهي قاعدې پيژندل او په بيعه کي يې تطبيقي نمونې بيانول دي، زموږ د څېړني تګلاره تحليلي او توصيفي ده چي د کتابتوني ميتود پر بنسټ تر سره سوي ده، تر څو دا ښکاره سي، چي په اسلامي شريعت کي د يو انسان څخه بل انسان ته ضرر رسول او په ځانګړي ډول په مالي معاملاتو کي جواز نه لري .

**کليدي کلمې**: ضَرَرَ، ضِرار، قاعده، فقه

## سريزه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

اما بعد:

په ټولنه کي د اسلامي شريعت اساسي موخه د مصلحتونو لاسته راوړل، او د مفاسدو مخه نيول دي، هيڅ انسان بايد د بل انسان څخه په ټولنه کي متضرر نه سي، هغه که د معاملاتو په برخه کي وي او که په نورو د نيوي چارو کي وي. انسان ته ضرر رسول حتی معاهد کافر ته په اسلامي شريعت کي جواز نه لري. په اسلامي ټولنه کي د ټولو خلکو حقوق د اسلامي اصولو په رڼا کي خوندي او ساتل سوي دي، اسلامي شريعت هيچاته اجازه نه ورکوي، چي په هيڅ برخه کي بل وګړي ته پرته له شرعي اصولو سزا ورکړي. د دې ليکني اصلي موخه د ضرر پېژندل او په بيع کي يې نمونې د حنفي

ترلاسه سوې: ۱۴۰۴/۰۳/۲۰ منل سوې: ۱۴۰۴/۰۵/۲۰ خپره سوې: ۱۴۰۴/۰۶/۳۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-2-1-06 مخونه (۱۰-۳۳)

مذهب د فروعو څخه شودل دي. دا یو مهمه فقهي قاعده ده، چې د ضرر اړوند زیات احکام په ځان کې را نغاړي. موږ یې ځینې تطبیقي نمونې د بیعې په برخه کې ښودلې دي، تر څو د افغاني ټولنې ستونزې په دې برخه کې تر یو اندازې حل او په نتیجه کې خلکو ته دا ښکاره سي، چې د معاملاتو په برخه کې ضرر رسول ناروا او د اسلامي ټولنې د اصول سره په ټکر کې دی؛ دا یو پراخه قاعده ده چې زیات فروع د فقهي په مختلفو بابونو کې لري، نور څېړونکي کولای سي چې په دې برخه کې لا زیاتې لیکنې وکړي.

### د څېړنې اهمیت

هر څېړنه  چې تر سره کیږي یو ځانگړي اهمیت لري، او تر یو اندازې د ټولنې ستونزو ته ځواب ویونکې وي، د " لاضَرَرَ و لا ضِرارَ" فقهي قاعده او په بیع کې یې تطبیقي نمونې یو له هغه موضوعاتو څخه ده چې په خپله برخه کې زیات فقهي فروع تر خپل چتر لاندې راولي. په ټولنه کې د دې قاعدې تطبیق کول په ځانگړي توگه په بیع کې ډېر اړین دي چې د ټولنې یو اندازه مشکلات په حل کیږي.

### د څېړنې اهداف

هره څېړنه مشخص اهداف لري، زموږ د څېړنې اهداف په لاندې دول دي:

۱ـ د " لاضرر و لا ضرار" فقهي قاعدې پېژندل،

۲ـ د " ضَرَرَ او  ضِرارَ" ترمنځ فرق بیانول،

۳ـ د " لاضَرَرَ و لا ضِرارَ" فقهي قاعدې تطبیقي بیلگې په بیع کې بیانول،

### د څېړنې اړوند سوالونه

هر څېړنه ځانگړي سوالونه لري، زموږ د څېړنې سوالونه په لاندې ډول دي:

۱ـ د  " لاضرر و لا ضرار" فقهي قاعده د کوم ډول قواعدو څخه ده؟

۲ـ آیا د " ضَرَرَ او  ضِرارَ" ترمنځ فرق سته؟

۳ـ د " لاضَرَرَ و لا ضِرارَ" فقهي قاعده فقهاوو د بیعې په برخه کې څنگه تطبیق کړې ده؟

### د څېړنې اړوند پخوانیو اثارو ته کتنه

د لاضرر ولاضرار فقهي قاعدې اړوند لیکنې په مجموع کې د نورو فقهي قواعدو سره یوځای سوي دي چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو:

- عبيدالله بن عمر بن عيسى ابو زيد دبوسي المتوفى(۴۳۰هـ)، (تأسيس النظر في اختلاف الأئمة).
- زين العابدين بن ابراهيم بن محمد مشهور په ابن نجيم متوفى( ۹۷۰هـ ش)، ( الأشباه والنظائر).
- سلطان عبد العزيز خان عثماني( مجلة الأحكام العدلية)، دا کتاب د عثماني خلافت په دور کي يو شمير علماوو تأليف کړی دی چي په (۱۲۹۲ هـ)کال کي چاپ سوو.
- أحمد محمد عثمان الزرقا( شرح القواعد الفقهية).
- الرسالة الندية في القواعد الفقهية ( أبو سلسبيل عبدالفتاح بن محمد مصيلحي).

فقهي قواعد په ځلرم هجري کال کي د يو مستقل علم په حيث و پيژندل سوه، چي په دې برخه زياتي ليکنې سوي دي. خو زموږ ليکنه تر يو مشخصي فقهي قاعدې لاندي تر سره سوي چي په بيع کي تطبيقي نمونې راښيې، نوموړې ليکنه د پښتو ليک دود مطابق تر سره سوې ده.

## د څېړني منهج او تګلاره

دا يو تحليلي او وصفي ليکنه ده چي د کتابتوني ميتود پر اساس تر سره سوې ده، معلومات مو د قيق راټول کړي او د معتبرو علمي مصادرو څخه مو استفاده کړې ده، هر عالم ته مو خپل قول پرته له زيادت او نقصان څخه منسوب کړی دی، آياتونه مو قرآني سورتونو ته منسوب کړي، دا چي موضوع پراخه نسي نو د آحاديثو تخريج مو نه دی کړي، مصادر او مراجع مو د (APA) سبک مطابق ذکر کړي دي.

## د لا ضرر ولا ضرار قاعدې تعريف، معنی، دلائل او أهميت

د "لا ضرر و لا ضرار" فقهي قاعدې پيژندنه، معنی، دلائل او أهميت په لاندي ډول ذکر کوو:

### د قاعدې لنډه پېژندنه

د دې قاعدې لغوي او اصطلاحي پيژندنه:

### د ضرر لغوي پېژندنه

**«الضَّرُّ والضُّرُّ لُغَتَانِ : ضِدُّ النَّفْعِ... والضَّرَرُ: نُقْصَانٌ يَدْخُلُ في الشَّيْءِ»**. (أبو القاسم، 1414 هـ)

ژباړه: الضَّرُّ( په فتحه د ض) والضُّرُّ( په ضمه د ض) دوه لغاتونه دي چي د ګټي ضد ته وايي او ضرر هغه نقصان ته ويل کيري چي په يوشي کي داخل سي.

**وقال أَبو الدُّقَيْشِ : «كُلُّ ما كان من سُوءِ حال وفَقْرٍ أَو شِدّةٍ في بَدَنٍ فهو ضُرٌّ ، وما كان ضِدّ النَّفْع فهو ضَرٌّ».** (الزَّبيدي، 1984م)

ابو دقيش وايي: هر هغه څه چي د بد حالت، فقر او په بدن کي د درد له امله وي هغه ته(ضُرٌّ) ويل کيږي او هغه څه چي د ګټي خلاف وي هغه ته(ضَرٌّ) ويل کيږي.

الله تعالی فرمايي: ﴿ **وَإِذَا مَسَّ الإِنسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنبِهِ أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَآئِمًا فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُ مَرَّ كَأَن لَّمْ يَدْعُنَا إِلَى ضُرٍّ مَّسَّهُ كَذَلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ**﴾.(12).( سورة يونس)

ژباړه: او کله چي انسان ته تکليف ورسيږي(نو) په خپل اړخ باندې(پروت)، يا ناست، يا په ولاړه موږ بلي، نو کله چي مونږ له هغه نه د هغه تکليف ليري کړو(نو داسي) تېرېږي لکه ده چي موږ نه وو بللي(د) هغه تکليف(لرې کولو)ته چې ده ته ور رسيدلي و، همدا رنګه له حد تېرېدونکو ته هغه عملونه ښايسته کړی سول چي دوی به کول.

**د ضرر اصطلاحي پيژندنه**

د ضرر اصطلاحي تعريف له لغوي تعريف سره زيات توپير نه لري، ځيني علماء ضرر داسي تعريف کوي:

الضرر: «الحاق مفسدة بالغير مطلقا». (المظاهري)

په مطلق ډول سره بل چاته تاوان رسولو ته ضرر وايي.

هغه که په قول سره وي لکه يو چاته بد رد ويل او يا په فعل سره وي لکه د يوکس وهل، زخمي کول او داسي نور.

**ضَرَرَ او ضِرارَ ترمنځ فرق**

ضرر او ضرار په معنی کي فرق لري.

ضَرَرَ: «لا يجوز الإضرار ابتداء أي لا يجوز للإنسان أن يضر شخصا آخر في نفسه وماله لأن الضرر هو ظلم والظلم ممنوع في كل دين وجميع الكتب السماوية قد منعت الظلم». (خسرو)

ژباړه: له اوله سره چاته ضرر رسول جواز نه لري، يعني انسان ته جواز نه لري چي د بل شخص نفس او مال ته تاوان ورسوي؛ ځکه ضرر ظلم دی او ظلم په هر دين کي ممنوع دی او ټولو اسماني کتابونو ظلم منعه کړی دی.

ضِرارَ: « وهو أنه لا يجوز مقابلة الضرر بمثله وهو الضرار كما لو أضر شخص آخر في ذاته أو ماله لا يجوز للشخص المتضرر أن يقابل ذلك الشخص بضرر بل يجب عليه أن يراجع الحاكم ويطلب إزالة ضرره بالصورة المشروعة». (خسرو)

ژباړه: د ضرر مقابله په بل ورته ضرر سره هم جواز نه لري، چي دېته ضرار وايي، لکه يو شخص د بل شخص بدن او يا مال ته ضرر ورسوي؛ نو متضرر شخص ته جواز نه لري چي د دې شخص مقابله په ضرر سره وكړي، بلكي په ده باندې لازمه ده چي حاكم ته مراجعه وكړي او په شرعي طريقه د خپل ځان څخه د ضرر د لېري کولو غوښتنه وكړي.

**د "لا ضرر و لا ضرار" فقهي قاعدې لنډه معنى**

نه ضرر رسول جائز دي، او نه د بل چا ضرر په ضرر سره ځوابول جائز دي، خو دلته بايد دا خبره ښكاره وي چي (لاضرر) مفهوم دا نه دی، چي اصلاً ضرر هيڅ نه پيداكيږي، بلکي په هر وخت کي موجود وي او خلك هميشه دا كار كوي، مقصد له دې قاعدې څخه دادی: چي له اوله هم چاته ضرر رسول جواز نه لري او نه د بل چا ضرر په ضرر سره ځوابول جواز لري. (خسرو)

**د "لا ضرر و لا ضرار" فقهي قاعدې د لائل**

د قرآن كريم څخه

لومړي دليل: الله تعالی فرمايي: ﴿ وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَلاَ تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَاراً لِّتَعْتَدُواْ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ﴾. ( **البقرة: ٢٣١**)

ژباړه: او كله چې تاسو ښځي طلاقې كړئ، بيا هغوی خپلې ( د عدت اخري) مودې ته نژدې شي. نو دوی په ښې طريقې سره ايسار كړئ ( په رجوع كولو سره)، يا هغوی په ښې طريقې سره رخصت كړئ او د ضرر رسولو لپاره هغوی مه ايسار وئ چي زياتی وكړئ او چا چې دغه (كارونه) وكړل، نو يقيناً هغه په ځان ظلم وكړ.

د دې آيت د سبب نزول په هكله امام ابن جرير طبري رحمه الله د عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت كوي: ﴿كَانَ الرَّجُلُ يُطَلِّقُ امْرَأَتَهُ ثُمَّ يُرَاجِعُهَا قَبْلَ انْقِضَاءِ عِدَّتِهَا، ثُمَّ يُطَلِّقُهَا، يَفْعَلُ ذَلِكَ يُضَارُّهَا وَيَعْضُلُهَا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ هَذِهِ الْآيَةَ﴾. (الطبري، 2000 م)

يو شخص به خپله ښځه طلاقول، د عدې له تيرېدو وړاندې به يې بيرته ورته رجوع كول، بيا به يې طلاقول، موخه يې و ښځي ته ضرر رسونه او بي خاونده پرېښونه وه، نو الله تعالی دغه آيات نازل كړي.

**دويم دليل:** كاتب او شاهد ته ضرر رسول جواز نه لري:

الله تعالی فرمایي: ﴿وَلاَ يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَلاَ شَهِيدٌ﴾. (البقرة: ۲۸۲).

ژباړه: او ضرر دې ونه رسول شي لیکونکي ته او نه گواه ته!.

**درېیم دلیل:** په وصیت کې ضرر نه رسول:

الله تعالی فرمایي: ﴿غَيْرَ مُضَآرٍّ وَصِيَّةً مِّنَ اللَّهِ﴾. (النساء ۱۲).

ژباړه: ضرر رسونکی نه وي (بل ته په دې وصیت سره) دا د الله له جانبه وصیت دی.

د ښکاره نصوصو څخه دا ثابتیږي چې د ژوند په ټولو برخو کې باید یو مسلمان بل مسلمان ته ضرر ونه رسوي.

**د نبوي احادیثو څخه دلائل:**

**1 - عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: «أن رسول الله ﷺ قال: لا ضَررَ ولا ضِرار، مَن ضَارَّ، ضَرَّه اللهُ، وَمَن شَاقَّ، شقَّ اللهُ عليه».** (أبو عبدالله الحاكم، 1990م)

ژباړه: له ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

له ابتداء نه ضرر رسول جواز نه لري او نه د چا د ضرر په مقابل کې ضرر رسول جواز لري، څوک چې بل چاته ضرر ورسوي، الله تعالی به ورته ضرر ورسوي او څوک چې سختي وکړي الله تعالی به ور سره سختي وکړي.

**2 - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ».** (الشیباني، 2001 م)

ووجه الدلالة هو أن الغرر يؤدي إلى الإضرار بالمغرور، ولا سبيل إلى إزالة الضرر إلا بإثبات الرجوع على من غره وأضر به. (والإنسانية، 1434ق)

د دلالت وجه داده چې دوکه د دوکه سوي شخص د زیان سبب گرځي، د دغه ضرر د لرې کولو بله هیڅ لاره نسته؛ مگر د هغه په وړاندې د رجوع حق ثابت سي، کوم چې دوکه سوی او زیان یې ور اړولی دی.

**د "لا ضرر و لا ضرار" فقهي قاعدې اهمیت**

په اسلامي فقه کې دا قاعده ډېره مهمه او لویه قاعده ده، چې د فقهي په مختلفو برخو کې د تطبیق پراخه ساحه لري؛ ځکه د اسلامي شریعت احکام به یا د منافعو د خوندي کولو لپاره مشروع سوي او یا هم د ضرر د مخنیوي لپاره، چې په دې سره د خمسه ضروریاتو لکه(دین، نفس، نسب، مال او ابرو) ساتنه ده.

دا قاعده د رسول الله ﷺ د حدیث نص دی، لکه څنګه چې مخکې ترې يادونه وسوه.

**د ضرر انواع او ضوابط**

د ضرر د انواعو او ضوابطو څخه په لنډ ډول یادونه کوو:

**د ضرر انواع**

هغه ضرر چې په نورو باندې واقع کيږي په درې ډوله دی:

**لومړی:** پرته له حقه ضرر رسول، مقصود د دې ضرر څخه مطلق ضرر رسول دي، پرته له دې چې ګټه په نظر کې ونيول سي، چې دا ډول ضرر د انسان په مال او يا ابرو باندې واقع کيږي ، دغه نوعه ضرر حرام دی لکه ښځه معلقه ګرځول، يا د وصيت کوونکي قصد او اراده په خپل وصيت سره وارثانو ته ضرر رسول وي، چې په دې سره د يوه وارث حق کم کړي. (الدُّبْيَانِ، 1434ق)

**دوهم:** کله ناکله یوکس په خپل حق کي د يو صحيح هدف لپاره تصرف کوي، خو په دې کار کولو سره بل چا ته ضرر رسيږي، لکه په خپل کور کي وداني جوړول، او کړکي د همسايه طرف ته خلاصول، په دغه حالت کي هم ضرر رسول منعه دي، او که واقع سوی وي بايد مخنيوی يي وکړي. (الدُّبْيَانِ، 1434ق)

**دریم:** په حق سره چاته ضرر رسول، په اسلامي شریعت کي دغه نوعه ضرر ممنوع نه دی، لکه هغه چاته ضرر رسول چي هغه مستحق د حد او تعزير وي. دلته هدف جاني ته ضرر رسول نه بلکي په ټولنه کي د عدالت تطبيق کول دي. (الدُّبْيَانِ، 1434ق)

**د ضرر اړوند ضوابط**

د ضرر اړوند ضوابط په لاندي ډول دي:

**لومړي ضابطه:** ضرر بايد ثابت او مصلحت ته زيان رسونکي وي، يواځي وهم او خيال نه وي، په اسلامي فقه کي په هغه ضرر باندې احکام بنا کيري، چي د هغه واقع کيدل يقيني وي، يواځي وهم نه وي؛ ځکه فقهي قاعده ده( **لا عبرة بالتوهم**). وهم ته اعتبار نسته (العثمانية)

**دويمه ضابطه:** ضرر بايد فاحش وي، ډېر لږه نه وي.

**دريمه ضابطه:** ضرر بايد متعدي، او پرته له حقه وي، که د حق په مقابل کي وي او يا شريعت اجازه ورکړي وي، بيا ضرر نه ثابتيري. (الدُّبْيَانِ، 1434ق)

**د " لا ضَرَرَ ولا ضِرار" قاعدې اړوند نورې فقهي قاعدې**

د دې قاعدې لاندي نوري قاعدې سته چي په لاندي ډول دي:

**۱ـ الضَّرَرُ يُزَالُ.** (المصري، 1400ق)

ضرر باید له منځه لاړ سي

**۲ـ الضَّرَرُ لَا يَزَالُ بِالضَّرَرِ.**

ضرر په ضرر سره نه جبران کیږي.

**۳ـ يُتحَمَّلُ الضَّرَرُ الْخَاصُّ ؛ لِأَجْلِ دَفْعِ ضَرَرِ الْعَامِّ.**

د عام ضرر د دفعه کولو لپاره خاص ضرر منل.

**۴ـ الضَّرَرُالْأَشَدُّ يُزَالُ بِالْأَخَفِّ.** (المصري، 1400ق)

لوی ضرر په کوچني ضرر سره لمنځه وړل.

**په بیع کې د " لا ضرر و لا ضرار" فقهي قاعدې تطبیقي بیلګې**

د دې فقهي قاعدې تطبیقي مثالونه په حنفي فقه په لاندې ډول دي:

1 - شَرَى شَجَرَةً بِأَصْلِهَا وَفِي قَلْعِهَا مِنْ الْأَصْلِ ضَرَرٌ بِالْبَائِعِ يَقْطَعُهُ مِنْ وَجْهِ الْأَرْضِ مِنْ حَيْثُ لَا يَتَضَرَّرُ بِهِ الْبَائِعُ. (إبن عابدين)

مشتري یوه ونه د ريښو سره رانيول، که يې د ريښو سره کاږي بائع ته تاوان رسيږي، دغه ونه دې د مځکې له سر سره سمه پرې کړي تر څو بائع ته ضرر ونه رسيږي.

ځکه د مځکې زيات کېندل، او د هغې له بيخه ايستلو سره بائع ته ضرر رسيږي، او ضرر رسول جواز نه لري.

2- رَجُلٌ يَبِيعُ وَيَشْتَرِي على الطَّرِيقِ فَأَرَادَ إنْسَانٌ أَنْ يَشْتَرِيَ منه شيئا فَإِنْ لم يَكُنْ في قُعُودِهِ ضَرَرٌ بِالنَّاسِ وَسِعَهُ أَنْ يَقْعُدَ في الطَّرِيقِ وَيَشْتَرِيَ منه وَإِنْ كان فيه ضَرَرٌ يُكْرَهُ له أَنْ يَشْتَرِيَ منه وهو الْمُخْتَارُ لِأَنَّهُ يَكُونُ مُعِينًا له على الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ. (المصري، 2002 م)

ژباړه: يو کس په لاره باندې رانيول او خرڅول کوي، نو يو که څوک وغواړي چي له دې کس څخه (چي په لاره کې رانيول او خرڅول کوي) يو شی رانيسي، که دده په کښېنستلو سره د لارې خلکو ته ضرر نه رسېدی، ده ته اجازه سته چي په لاره کې کښيني او له بائع څخه يو شی رانيسي او که د مشتري په ناسته سره د لارې خلکو ته ضرر رسېدی، مشتري ته دا جواز نه لري چي شي ځيني رانيسي او دا غوره قول هم دی؛ ځکه مشتري د بائع سره په دې ګناه کې کومک کونکي او شريک دی.

خلاصه دا چي په عامه لارکې رانيول او خرڅول جواز نه لري؛ ځکه دا دعامه مصلحت خلاف، او د خلکو د تکليف سبب ګرځي.

4- وَلِلأَبِ أَنْ يَشْتَرِيَ شيئا من مَالِ الصَّغِيرِ لِنَفْسِهِ إذَا لم يَكُنْ فيه ضَرَرٌ على الصَّغِيرِ بِأَنْ كان بِمِثْلِ الْقِيمَةِ وَالْغَبْنُ يَسِيرٌ. (المصري، 2002 م)

ژباړه: پلار کولای سي چي د خپل کوچني اولاد د مال څخه يو شي د خپل ځان لپاره رانيسي په داسي ډول چي کوچني ته په دې بيع کي ضرر نه وي، هغه دې په ډول سره چي د بازار د قيمت په اندازه شی ځيني رانيسي او يا په لږ غبن سره.

5- په بيعه کي خيار شرط او خيار رؤيت د مشتري څخه د ضرر د لرې کولو لپاره مشروع سوی دی. ( (الزحيلي.، 2006 م)

6- که څوک داسي يو شی خرڅ کړي چي هغه ژر لمنځه ځي لکه ميوي او سبزي، مخکي له دې چي مشتري بائع ته روپي ورکړي او يا مبيعه قبض کړي غائب سي، نو بائع کولای سي بيعه فسخه کړي او دغه شيان په بل چا باندې خرڅ کړي تر څو بائع له ضرر څخه وساتل سي. (المظاهري).

7- کله چي د مشتري سره په مبيعه کي عيب پيدا سي او په دې مبيعه کي مشتري په هغه عيب باندې هم خبر سي کوم چي د بائع سره وو، نو مشتري د مبيعي د رد حق نه لري اما د تاوان غوښتنه کولای؛ ځکه د مبيعي په رد کولو سره بائع ته ضرر رسيږي. (العينی، 2000م)

**معاصر تطبيقي مثالونه**

د نوموړي قاعدې لاندي زيات معاصر مثالونه د بيعي اړوند راځي چي ځيني يې په لاندي ډول دي:

1 - د وخت نه تير درمل خرڅول منعه دي؛ ځکه په دې سره مشتري ته ضرر رسيږي، ضرر رسول په اسلامي شريعت کي منعه دي.

2 - ټول خوراکي او غير خوراکي توکي چي وخت يي تېر وي، او د خرڅولو اصولي اعتبار يي له لاسه ورکړی وي، خرڅول يي جواز نه لري؛ ځکه په دې سره مشتري او ټولني ته ضرر رسيږي، ضرر رسول جواز نه لري.

3 - ښځه نسي کولای چي د زينت داسي شيان رانيسي چي د هغې مخ او بدن ته زيان رسوي؛ ځکه لکه څنگه چي بل ته ضرر رسول جواز نه لري همدا ډول ځان ته ضرر رسول هم جواز نه لري.

4 - د غنمو د منډوی څخه بهر د صحراوي خلکو څخه غنم او نور حبوبات رانيول چي هغوی د ښار په نرخ خبر نه وي، او له اصلي نرخ څخه يي په ټيټه بيعه رانيسي جواز نه

لري؛ ځکه له یو طرفه ښاري مصحلت په پام کې نه نیول کیږي او له بلې خوا مشتري متضرر کیږي.

5 - کله چې مشتري له دوکاندار څخه زیاته سودا کوي؛ نو لومړني دوه یا درې قلمه توکي په ارزانه بیع پر خرڅ کړي، وروسته بیا نور د بازار څخه په ګران قیمت باندې پلورې، هدف یې د مشتري جلبول وي، داکار جواز نه لري؛ ځکه د مشتري دوکه کول او هغه ته زیان رسول دي.

دا یو ډېره لویه فقهي قاعده ده، په خپل ځان کې زیات فروع لري، د ټولو فروعو ذکر کول ممکن نه دی؛ نو په همدې باندې بسنه کوو.

## نتیجه او مناقشه

د "لا ضرر ولا ضرار" فقهي قاعدې په اړه ترسره شوې څېړنه دا روښانه کوي چې دا قاعده د اسلامي شریعت یو له بنسټیزو فقهي قواعدو څخه ده چې د ټولنیز عدالت او مالي معاملاتو په برخو کې د تطبیق پراخه ساحه لري. څېړنه ښیي چې د دې قاعدې د مراعاتولو له لارې، نه یوازې د افرادو خپلمنځي حقوق خوندي کیږي، بلکې ټولنه د بې عدالتۍ، دوکې، او مالي زیانونو څخه ساتل کیږي. په دې برخه کې زیاتي لیکني سوي دي، چې هر لیکوال د خپل منهج او تګلارې مطابق نوموړې قاعده شرحه او ترتیب کړې ده، او په دې برخه کې د خپلې ټولنې مشکلاتو ته په کتو تطبیقي مسائل روښانه کړي دي، موږ هم د حنفي مذهب د اصولو په پام کې نیولو سره د قاعدې اړوند تطبیقي مسائل په ساده پښتو ژبه سره روښانه کړي دي. د تحقیق له نتایجو څرګندیږي چې په بیع کې ضرر رسول په هیڅ ډول سره جواز نلري، او همدارنګه د بل چا ضرر په ضرر ځوابول هم ممنوع دی. دغه اصول د اسلامي اخلاقو او فقهي قواعدو په رڼا کې د معاملاتو د شفافیت او امانتدارۍ تضمین کوي.

په څېړنه کې د ضَرَرَ او ضِرارَ توپیر په علمي شکل سره بیان سوی دی، یعني ضرر د بل چا لپاره د تاوان رسولو مفهوم لري، او ضرار د بل چا ضرر په ضرر ځوابول دي چې دواړه په اسلامي شریعت کې جواز نه لري.

په څېړنه کې د قاعدې عملي تطبیقات ښودل سوي، لکه په عامه لار باندې د توکو خرڅول، د ربنبو سره د ونو اخیستل، له وخت تیر خوراکي او غیر خوراکي توکي پلورل دي. دې بیلګو په عملي توګه وښودله چې د اسلامي شریعت اصول د تجارتي معاملو شفافیت او عدالت تضمینوي.

دا څېړنه تحليلي او توصيفي ده، خو بيا هم ځينې محدوديتونه لري، هغه دا چي د پخوانيو مصادرو او مراجعو څخه استفاده سوې، يواځي د حنفي مذهب مطابق فقهي فروعات بيان سوې، د نورو مذاهبو تطبيقي مسئلي پکي روښانه سوي نه دي.

دا قاعده نه يوازي د تاريخ په اوږدو کي، بلکي د معاصرو معاملاتو په څېړنه او حل کي هم مهم رول لري. قاضيان او مفتيان کولای سي د دې قاعدې په پام کي نيولو سره، فيصله او فتوی ورکړي. دا يو پراخه فقهي قاعده ده، چي زيات معاصرو فقهي فروعاتو ته شامليږي، نور څېړونکي کولای سي چي په دې برخه کي نور زيات کار وکړي، تر څو د ټولني مشکلات په دې برخه نور هم حل سي.

## پايله

د څېړني پايله په لاندي څو ټکو کي ذکر کوو:

۱ـ د " لاضرر ولاضرار" فقهي قاعده يو له لويو فقهي قواعدو څخه ده چي د فقهي په ټولو بابونو کي په ځانګړي ډول د مالي معاملاتو په برخه کي د تطبيق پراخه ساحه لري.

۲ـ په اسلامي شريعت کي پرته له حقه ضرر رسول جواز نه لري.

۳ـ د " لاضرر ولاضرار" فقهي قاعدې څخه په معاصرو معاملاتو کي پراخه استفاده کيږي.

۴ـ ضرر بايد لمنځه لاړ سي او هيڅ ضرر بايد په ضرر سره ځواب نه سي.

۵- له سره ضرر رسول جواز نه لري، همدا ډول د ضرر په مقابل کي ضرر رسول هم جواز نه لري.

په ټولو بيوعاتو کي بايد يو مسلمان بل مسلمان ته ضرر ونه رسوي ځکه ضرر رسول د اخلاقي مسؤليت تر څنګ شرعي مسؤليت هم لري.

**وړانديزونه**

هره څېړنه ځانګړي وړانديزونه لري، زموږ د څېړني وړانديزونه په لاندي ډول سره دي:

۱ـ څېړونکي او علماء بايد فقهي قواعدو ته زياته پاملرنه وکړي؛ ځکه دا قواعد چي زيات جزئيات تر يو لنډ عبارت لاندي را ولي.

۲ـ د " لاضرر ولاضرار" فقهي قاعدې اړوند څېړونکي بايد لا زياتي ليکني وکړي، د دې قاعدې جزئيات په معاصر معاملاتو کي روښانه سي.

۳ـ هيڅ مسلمان بايد بل مسلمان ته ضرر ونه رسوي، او نه بايد ضرر په ضرر ځواب کړل سي.

۴ـ که څوک غواړي د مالي معاملاتو په احکامو باندز ځان پوه کړي نو پکار ده چي د مالي معاملاتو اړوند قواعد او ضوابط وپيژني.

# أخځليكونه

القرآن الكريم.

1.
2. إبن عابدين, ا. ع. (n.d.). ردالمحتار.
3. أبو القاسم, إ. ب. ( 1414)هـ .(المحيط فى اللغة (Vol. 2ج، .(بيروت, لبنان: عالم الكتب.
4. أبو عبدالله الحاكم, أ. (1990) م .(المستدرك على الصحيحين للحاكم .القاهرة, مصر: دار الحرمين.
5. الدُّبْيَانِ, أ. (1434) ق .(المُعَامَلَاتُ المَالِيَّةُ أَصَالَة وَمُعَاصِرَة )الطبعة: الثانية .(ed.الرياض, المملكة العربية السعودية: مكتبة الملك فهد الوطنية.
6. الزَّبيدي, م. (1984) م .(تاج العروس من جواهر القاموس .(Vol. 12دار الهداية.
7. الزحيلي., م. ( 2006) م .(القواعد الفقهية وتطبيقاتها في المذاهب الأربعة )الطبعة: الأولى .(ed.دمشق, السورية: دار الفكر.
8. الشيباني, أ. ( 2001) م .(مسند الإمام أحمد بن حنبل .مؤسسة الرسالة).
9. الطبري, م. ( 2000) م .(جامع البيان في تأويل القرآن )الطبعة: الأولى، .(ed.مؤسسة الرسالة.
10. العثمانية, ل. م. (n.d.). مجلة الأحكام العدلية .كراتشي: نور محمد، كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ.
11. العينى, أ. (2000) م .(البناية شرح الهداية .بيروت: دار الكتب العلمية.
12. المصري, ز.(1400) ق .(الأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ النُّعْمَانِ )الطبعة: الأولى .(ed.بيروت, لبنان: دار الكتب العلمية.
13. المصري, ز.( 2002) م .(البحر الرائق شرح كنز الدقائق )الطبعة: الاولى .(ed. دار احياء التراث العربي.
14. المظاهري, أ. ش. (n.d.). القواعد الفقهية المحمودة .هند: مكتبة زكريا ديوبند.
15. خسرو, م. ب.-أ. (n.d.). درر الحكام في شرح مجلة الأحكام .(Vol. 1)بيروت, لبنان: دار الكتب العلمية.
16. والإنسانية, م.(1434) ق .(معلمة زايد للقواعد الفقهية والأصولية )رقم الطبعة: 1 .(ed. مؤسسة زايد بن سلطان آل نهيان للأعمال الخيرية والإنسانية.

Social Sceince
AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# Introduction to the Jurisprudential Maxim “La Darar wa La Dirar” and Its Applied Examples in Sale (Bay‘)

Assistant Lecturer Naqibullah Saqib
Department of Fiqh and Law, Faculty of Sharia, Helmand University
**Email:** naqibullahsaqib426@gmail.com

## Abstract

The jurisprudential maxim “La Darar wa La Dirar” (No harm and no reciprocation of harm) is one of the five major legal maxims in Islamic jurisprudence, under which various branches of fiqh fall, with its scope of application extending across all chapters of Hanafi jurisprudence. It is a clear principle that within society no person should inflict harm upon another without a legitimate Shariah justification, nor should harm be responded to with further harm. The application of this principle ensures peace and stability within the community.

The purpose of this research is to introduce the jurisprudential maxim of “La Darar wa La Dirar” and to present its applied examples within sales contracts (Bay‘). The research methodology is analytical and descriptive, based on the library method, aiming to demonstrate that in Islamic Shariah, causing harm from one person to another—especially in financial transactions—is impermissible.

**Keywords:** Darar, Dirar, Maxim, Fiqh.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:2 Issue: 1 Year:1404**